## د انسان جنسیت او مسؤلیت
د اجازې لیک
**اتم ټولګی**

محترمو والدینو یا سرپرست،
د Austin ISD بورډ پالیسی EHAA سره سم، د انسان جنسیت او مسؤلیت Human Sexuality and Responsibility (HSR) نصاب به ستاسو د ماشوم ساینس ټولګي کې پدې منې کې تدریس شي. په اتم ټولګي کې دا 9 درسونه د اړیکو، ناوړه ګټه اخیستنې او قاچاق، ارتباطاتو او حدودو، د زیرون اناتومي، د ځوانی پراختیا، پرهیزګاری، امیندواری او جنسي لیږدیدونکی انتانات، او آنلاین خوندیتوب په اړه پراختیایي او د عمر مناسب معلومات پوښي. دا تعلیمي برنامه د زده کونکو د معلوماتو او مهارتونو پراختیا چمتو کولو لپاره ډیزاین شوې ترڅو دوی وکولی شي د فزیکي، احساساتي، رواني او ټولنیز روغتیا لپاره خپل لوړ ظرفیت ترلاسه کړی.

که تاسو چیرته مخکې دا نه وي کړی، مهرباني وکړئ تاسو ته بلنه درکوو چې د نصاب آنلاین کتنه په https://www.austinisd.org/pe-health/health-education/hsr وکړئ (د**K-HS Lessons** ښتې لاندې). ستاسو د ماشوم د لومړني ژوند روزونکي په توګه، AISD باور لري چې تاسو د انساني جنسیت په اړه د معلوماتو خورا مهم سرچینه یاست. د HSRنصاب د هغه څه ملاتړ کولو لپاره ډیزاین شوی چې زده کونکي په کور کې زده کوي، ستاسو د کورنی انفرادي ارزښتونو ته درناوی کوي، او زده کونکو ته درس ورکوي چې د نورو کورنیو ارزښتونو ته چې ممکن د دوی څخه توپیر ولري درناوی وکړي.

تاسو حق لرئ چې د خپل ماشوم په دې درسونو کې د ګډون او نه ګډون پریکړه وکړئ. و که تاسو چیرته غواړئ چې ماشوم مو د دې درسونو څخه یو یا ډیرو کې برخه وا نه خلی، نو بدیل درسونه چې د ټولنیز او احساساتي زده کړې مهارتونو باندې تمرکز کوي په بل ځای کې وړاندې کیږي.

د HSR پالیسی ټول معلومات، د ابتدایي کچې کورسونو عمومي کتنه، د کورنی سرچینې، او نور د HSR ویب پاڼه کې موندلی شئ: https://www.austinisd.org/pe-health/health-education/hsr. که تاسو کومه پوښتنه یا اندیښنه لرئ، مهرباني وکړئ د خپل ماشوم ښوونکي یا د پوهنتون مدیر سره اړیکه ونیسئ.

**مهرباني وکړئ د لاندې انتخابونو څخه یو غوره کړئ، نیټه ولیکئ او لاسلیک یې کړئ، او دا فورمه د خپل ماشوم ښوونکي ته بیرته ورکړئ.**

یادونه: که دا فورمه بیرته را ستنه نشي، ستاسو ماشوم به په هیڅ درس کې هم برخه وانخلي.

☐ **زما ماشوم به د مسؤلیت او د انسان جنسیت په اړه په <u>ټولو 9 درسونو</u> کې برخه واخلي.**
(که تاسو دا اختیار غوره کړئ، نو ستاسو کار ختم شو. مهرباني وکړئ لاندې ولاړ شئ، نیټه ولیکئ او لاسلیک یې کړئ.)

**زه غواړم زما ماشوم <u>یوازې په</u> لاندې درسونو کې ګډون وکړي: (ټول هغه انتخاب کړئ چې تاسو غواړئ ستاسو ماشوم پکې ګډون وکړی):**

☐ اول درس، پیژندنه او اړیکی
☐ دوهم درس، غیر صحیح اړیکې او ناوړه ګټه اخیستنه
☐ دریم درس، قاچاق او استحصال
☐ څلورم درس، ارتباطات او سرحدونه
☐ پنځم درس، زیرون او د ځوانی ود
☐ شپږم درس، امیندواری او پرهیزګاری
☐ اووم درس، د جنسي اړیکو اغیزې
☐ اتم درس، ډیجیټل (آنلاین) ارتباطات
☐ نهم درس، دا ټول یو ځای کول

☐ **زما ماشوم به پورته لست شویو ټولو درسونو کې ګډون نه کوی.**

د زده کوونکی نوم ____________ والدینو/سرپرست امضاء ____________ تاریخ ____________